(١)

**د هيواد په لاره کې د شهيدانو او د قربانيو مرتبه**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« ولا تقولوا لمن يقتل في سبيل الله أموات بل أحياء ولكن لا تشعرون»**ژباړه:**« او هغو خلکو ته چې د الله په لار کښې ووژل شي، مړه مه واياست! داسي خلك خو په حقيقت کښې ژوندي دي، خو تاسي دا شعور نه لرئ چې د هغو په ژوند خبر شئ.»**
او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

د مصر ولس پدي ورځو کې له يو داسی پړاو څخه تيريږي چې د هيواد په تاريخ کې تل پاتي يادونه دي او همدارنګه هغه ورځو څخه تيريږي چې الله جل جلاله پدغه ورځ باندي په مصر باندی پيرزوينه وکړه او مصرته يی بری ورکړ او خپله خاوره او عزت يی بيرته له دښمن څخه راوګرځولو دا د ١٩٧٣ په زيږديز کال د اکتوبر ۶ نيټي د برياؤ لمانځنه ده چې د ١٣٩٣ هجري کال د روژي د مبارکي مياشتی لسمي ورځ سره برابره ده دغه لويه بريا چې په ترڅ کې د مصر پوځيانو د قهرماني د قربانی يو يادګار جوړ کړ او پدي کې د مصر د پوځ بنستيزه څيره رابرڅيره شوه چې د الله جل جلاله باندي باور او ايمان لري او پدي باور لري چې الله جل جلاله به دوي برياﻟﻲ کوي او پخپل ځان باندی باور يي درلوده او همدارنګه د خپلو موخواو د مقاصدو د لاسته راوړلو لپآره پياوړی او اراده او زم درلوده.

نو کله چې موخې او مقصدونه لوي وي او همدارنګه سپیڅلي وي نو قرباني او سرخندنه هم ډیره لویه وي او د الله جل جلاله په لاره کې د خپل ځان د شهادت څخه انسان ته بل څه قرباني ډیره لوړه او قیمته نده ځکه یوڅوک د خپل دین خاوري د ساتني لپآره خپل روح اوځان قربانوي او د خپل د ساتني لپاره کار کوي ترڅو لوړه مرتبه ترلاسه کړي چې هغه د شهادت مرتبه ده.

د شهادت مرتبه د الله جل جلاله له لوری یوه ورکړه ده چې الله جل جلاله هغه چا ته ورپه برخه کوي چې په هغه باندي مهربانه وي او هغه ته د نبیانو او صدیقینو څخه وروسته ډیر محبوب وي لکه چې الله جل جلاله پدي هکله فرمايي:« وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا»ژباړه:« څوك چې د الله او پيغمبر اطاعت وكړي، نو د هغو خلكو ملګري به وي چې الله پېرزوينه پر كړېده؛ يعني: پېغمبران، رښتيا ويونكي، شهيدان او صالحان. د هغو ملګرتيا څومره ښه ده چې چا ته په برخه شي.» نو الله جل جلاله چې د انسان لپاره دا غوره کوي چې هغه شهید شي دا پخپله ددی ښودنه کوي چې الله جل جلاله د هغه څخه راضي دی لدي درجز څخه بله درجه لوړه نشته الله جل جلاله پدي هکله په قرانکریم کې فرمایلي دي:« وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ» ژباړه:« او د هغو خلكو انتخابول يې غوښتل چې په واقعي توګه (د رښتينولۍ) شاهدان وي» ځکه چې شهید خپل ځان د الله جل جلاله د رضایت او د خپل هیواد په دفاع کې یی قرباني کوي او آخرت ته په دنیا باندي ترجیح ورکوي او خپل شهوتونه او رغبتونه وژني او د دین او د هیواد په لاره کې ځان قربانوي.

مبارک دي وي د شهید لپآره دغه لوړ مرتبه او هغه ډیره لویه ګټهه لاسته راوړلي ده لکه چې پدي هکله الله جل جلاله فرمايي:« إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ»ژباړه:« حقيقت دا

دی چي الله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کښي اخیستي دي. هغوی د الله په لار کښي جنګیږي، نو وژني او وژل کیږي. له هغو سره په تورات، انجیل او قرآن کښي (د جنت وعده) د الله پر ذمه باندي یوه کلکه پخه وعده ده.» نو څومره یو لوړ او عزتمند صفت لري چي بدله یي جنت ده په حدیث کي راغلي دي چي ام ربیعه بنت براء چي هغه ام حارثه بن سراقه ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغله او وي ویل ای د الله رسوله د حارثه په هکله راته خبری وکړي؟ هغه د بدر په ورځ باندي شهید شوی وو هغه په داسی غشي باندی لګیدلی و چي ویشتونکي یي معلوم نه وو ورته وي ویل که چیرته هغه په جنت کي وي چي زه ځان صبر کړم او که چیرته داسی نه وي ورباندي وجاړم پیغمبر صلي الله علیه وسلم ورته وفرمایل چي اي د حارثي موری هغه په جنت کي دی او ستا ځوي د فردوس جنت په لوړو مرتبو کي دي.

ریښتیني شهید هغه څوک دي چي د الله جل جلاله لپاره اخلاصمند وسي او د هغه په لاره کي ځان قربان کړي او هڅه وکړي او د الله جل جلاله او د اعلاء کلمة الله لپاره کار وکړي او د خپلي خاوري څخه دفاع وکړي اود خپل هیواد بیرغ پورته وساتي د ابي موسي رضي الله عنه څخه روایت دی وایی چي یو سړي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغي ویویل چي یو سړی جګړه کوي ترڅو غنیمت لاسته راوړي بل سړی جګړه کوي ترڅو د هغه یادونه وشي بل سړی جګړه کوي ترڅو هغه مرتبه اوله خپل ځاي خلکو ته وښاییئو څوک د الله په لاره کي جهاد کوي؟پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چي جګړه ددی لپاره کوي چي ترڅو د الله جل جلاله کلمه لوړه شي نو هغه د الله په لاره کي جهاد دی.

همدارنګه ریښتیني شهید هغه څوک دی چي ذلت په ټولو اشکالو سره نه منیاو همدارنګه د هر هغه چا په مقابل کي جګړه کوي چي د هغه په مال او په متاع باندي برید وکړي د ابي هریره رضي الله عنه څخه روایت دی دی وایي چي یو سړی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغي او وی ویل

اي د الله رسوله ايا ته ګوري چې يو څوک راشي او زما مال اخلي؟ پيغمبرصلی الله عليه ورته وفرمايل چې ته هغه ته خپل مال مه ورکوه بيا يی ورته وويل که چيرته يو څوک ماسره جګړه کوي پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل ته هم ورسره جګړه وکړه بيا يی ورته وويل ايا ته ګوري که چيرته هغه ما ووژني؟ نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل نو پدغه وخت کې به ته شهيد يی آيا ته ګوری که چيرته ما هغه ووژلو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل نو هغه به په اور کې وي.

رينښتيني شهيد همدارنګه هغه څوک دی چې د خپلي خاوری او د آبرو او د هيواد دفاع وکړي ځکه د هيواد او همدارنګه د ناموس دفاع کول د واقعي مسلمان لپاره داسی دی لکه چې د خپل ځان مال دين څخه دفاع کوي ځکه چې دين لپاره لازمي ده چې يو هيواد موجود وي چې د هغه ساتنه وکړي شي د سعيد بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی دی وايی چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې د خپل مال په دفاع کې مړ شو هغه شهيد دی او څوک چې د خپلي کورني په دفاع کې مړ شو هغه هم شهيد دی او څوک چې ددين په لاره کې ووژل هغه هم شهيد دی.

نو له همدي لپاره د شهادت د معناسره دا تړلي ده چې يو څوک بايد قربانی د الله په لاره کې ورکړي داپه دريځ کې چې وي برابره خبره ده چې د دين څخه دفاع وي ترڅو د الله جل جلاله کلمه لوړه وساتلی شي او که د خاوری څخه دفاع وي ترڅو د هغه ساتنه وشي او بريد تري لری شي ځکه چې د هيواد سره مينه کول هم د ايمان يوه برخه ده نو مبارکي دی ويد هغو شهداو لپاره چې هغوي د خپلي خاوری د دفاع لپاره خپلي ويني قرباني کړي دي هغو کسانو چې د مصر د پاکي خاوري د ساتني لپاره خپلي ويني تويي کړي دي او خپل روحونه يی الله جل جلاله ته سپارلي دي او د هغه رضامندي يي ترلاسه کړی ده او هغه جنتونه يي

ترلاسه کړي دي چې الله جل جلاله هغوي سره وعده کړې ده او مونږ الله جل جلاله ته دا سوال کوو چې مونږ هم د شهیدانو د جملي څخه ورګرځوي.
د الله په لاره کې د شهادت لپاره ډيرې لويي ګټي موجودي دي ددې جملي څخه يو هم دادي چې الله جل جلاله پخپل کتاب قرانکريم کې مونږ ته خبرراکړې دې چې شهيدان د هغه په نزد ژوندي دي لکه چې فرمايي:«وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ * فَرِحِينَ بِمَا آَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ * يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ» ژباړه:« کوم کسان چي د الله په لار کښي وژل شويدي، هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقيقت کښي ژوندي دي، د خپل رب په وړاندي روزي مومي؛* څه چي الله د خپلي لوريني له مخي هغو ته ورکړيدي، پر هغه خوښ او سوکاله دي؛ او پدې ډاډه دي چي کوم مؤمنان چي له هغو وروسته په نړۍ کښي پاتي دي او لا تر اوسه پوري هلته نه دي رسېدلي، د هغو لپاره هم څه وېره او کړاؤ نشته.* هغوی د الله په لورينه او د هغه په مهربانۍ خوشحاله او سوکاله دي، او هغو ته څرګنده شوېده چي الله د مؤمنانو اجر نه ضايع کوي.» هو هغوي ژوندي دي او مړه ندي او هغوي ته رزق ورکول کيږي او رزق يې هم د الله جل جلاله له لوري دي او هغوي په هغه څه باندي خوښ دي چې الله جل جلاله ورکړي دي ځکه چې هميشني جنت دی چې هيڅ سترګو هغه ندی ليدلي او نه هم کوم غوږ د هغه په هکله اوريدلي دي او په هغه کې هيڅ خطر نشته او همدارنګه دوي خپلو ورونوته چې هلته ورځي زيری ورکونکي دي هيڅ غم او خفګان نشته بلکي په هغي کې فضيلت نعمتونه او زيری دي چې يو بل ته ورکول کيږی.
د جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی د وايي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره مخامخ شوم راته يي وويلي چې اي جابره ولي داسی

زړه ماتي يي؟ ماورته وويل ای د الله رسوله پلار مي شهيد شوی دی او ماته يي کورني پريښي ده او همدارنګه پورونه دي راباندی وی فرمايل: اي تاته زه زيری درنکړم چې الله جل جلاله ستا د پلار سره څنګه مخامخ شوي وي فرمايل: ولي نه اي د الله رسوله وي فرمايل: الله جل جلاله د هيچا سره مخامخ خبری ندي کړی مګر د پردي ترشا کوي اوستا پلار يي راژوندی کړ او له هغه سره يي مخامخ خبری وکړی چې د هغوي ترمنځ نه پردهاو نه هم استازی وو ورته يی وويل اي زما بنده لما څخه هغه څه وغواړه چې ته يي هيله لری زه به تاته درکړم ورته وويل اي ربه ما بيرته راژوندي کړه ترڅو ستا په لاره کې زه بيا جهاد وکړم الله جل جلاله ورته وويل چې مخکي ما د ټولو سره وعده کړی ده چې بيرته به نه ګرځول کيږي دنيا ته نو هغه فرمايي چې بيا دغه ايت نازل شو چې الله جل جلاله فرمايي:« وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا» ژباړه:« کوم کسان چې د الله په لار کښي وژل شويدي، هغوی مړه مه ګڼئ».
او د شهيدانو د مرتبو څخه بل هم دادي چې شهيد لپآره د الله جل جلاله په نزد باندي شپږ خصلتونه موجود دی چې د مقدام بن معد کرب رضي الله عنه په حديث کې ذکر شوي دي لکه چې دی وايي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د الله جل جلاله په نزد د شهيد لپآره شپږ خصلتونه موجود وي لومړي دا چې به هغه ته سمدستي بخنه کوي او هغه ته په جنت کې ځاي ورکوي د قبر د عذاب څخه يي ساتي او همدارنګه د هغه په سر باندي به لوي د عزتمندي تاج ورپه سروي چې په هغه کې به ياقوت لګيدلي وي چې په دنيا هرڅه دی د هغه څخه به غوره وي او د حورو څخه به ۷۲ هغه ته ورپه برخه کوي او ۷۰ کسانو د خپلوانو څخه به شفاعت کوي او په بل روايت کې راغلي دي چې د خپل اهل بيتو شفاعت به کوي.
د شهيدانو د کرامت او د عزتمندي د مرتبو څخه بل هم دادي چې ملايکي به خپلي وزري به هغو ته غوړوي د جابر بن عبدالله څخه روايت دی

وایی چې زما پلار پیغمبرصلی الله علیه وسلم ته راوړل شو چې هغه د احد په جګړه کې شهید شوی وو اود هغه مړی یې بدرنګه کړی وو د هغه په وړاندی کېښودل شو زه ولاړم غوښتل مې د هغه مخ وګورم نو خلک زه منع کړم پیغمبر صلی الله علیه وسلم د یو چا چغه واوریده او وې ویل چې ولې ژاړي؟ مه ژاړي ځکه چې ملایکو خپلې وزرې هغه ته غوړولې دي.
همدارنګه د شهیدانو د مرتبې جملې څخه بل هم دادي چې شهید د الله په لاره کې جهاد کوي او شهید شي نو بغیر د حساب او کتاب او د عذاب څخه به جنت ته داخلیږي د عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې ما د پیغمبر صلي الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي ې فرمایلي دي: الله جل جلاله به د قیامت په ورځ جنت راوغواړي او وبه فرمایي چې چیرته دي زما هغه بندګان چې د الله په لاره کې یې جهاد کولو او زما په لاره کې دوي شهیدان شوي دي او زما په لاره کې دوي ته زیان رسیدلی دی او زما په لاره کې دوي جهاد کولو جنت ته داخل شي بغیر د حساب او کتاب څخه ملایکې به راشي او وایي به اې زمونږ ربه مونږ تاته شپه او ورځ تسبیح ویله او ستا سپیڅلتیا مو کوله دوي څوک دي چې تا په مونږ باندي غوره کړل؟ الله جل جلاله ورته وفرمایي: دوي هغه کسان دي چې زما په لاره کې یې جهاد کړې دي او دویته زیانونه رسیدلي دي نو ملایکې به د هر دروازې څخه پدوي باندي داخلیږي لکه چې په قرانکریم کې راځي:« سَلامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ ، فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ».
همدارنګه د شهیدانو د مرتبې څخه بل هم دادی چې دوي به په جنت کې وي او په غورو او ښه ؤ مرتبو کې به وي د سمره بن جندب رضي الله عنهما دي وایي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ما د معراج په شپه دوه سړي ولیدل چې ماته راغلل او زه یې ونیته جیګ کړم او

داسی یو ځاي ته یی داخل کړم چې ډیر ښکلي او غوره وو چې ما هیڅ نه وو لیدلي او راته یي وویلي چې دا د شهیدانو ځاي دی.
نو له همدي لپآره یواځي شهید دی چې هغه غوره ګڼې چې بیرته دنیا ته راوګرځي او د الله په لاره کې یو واري بیا شهید شي لکه چې د انس رضي الله عنه په حدیث کې راغلي دې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې جنت ته داخل شي هغوي دا خوښ نه ګڼي چې دنیا ته بیرته راوګرځي یواځي شهید دی چې هغه ددی هیله لري چې یو واري بیا دنیا ته وګرځي او لس کرته شهید کړی شي ترڅو دغه عزت او کرامت یو واري بیا وګوري چې مخکې یي لیدلی دی او په بل روایت کې رآځي چې د شهادت فضیلت وګوری.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*************

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

لوړو موخو او اهدافو ته رسیدل پدغه ژوند کې دا لازمي ګرځوي چې باید لوړی قربانی ورکړل شي او بی له شکه چې د اهدافو او د مقاصدو لوړوالي ددی تقاضا کوي چې د قربانیو لوړوالي او همدارنګه د هغه مرتبه او عزت هم ورسره لوړیږي او دا حال د هر هغه چا دي چې د خپل دین او وطن په لاره کې خپل ځان قرباني کړی وي.
زمونږ وجیبه د خپل ګران هیواد په وړاندي او همدارنګه د خپل دین په وړاندی دادی چې هڅه وکړو او کوښښ وکړو او یو له بل سره همکار

وسو ترڅو د هغه د امنيت ساتنه وکړو او د هغه څخه دفاع وکړو او د هر هغه تيري څخه يی وساتو چې پري رامنځته کيږي او همدارنګه ټول هغه خطرونه لمنځه يوسو چې ورته مخامخ وي اوزمونږ سترګې بايد رڼې وي ترڅو ددي د امنيت ساتنه وکړو او ټول سره يو موټی شو او د هر هغه چا په وړاندي سره يو شو چې غواړي زمونږ هيواد ته زيان ورسوي هغه که هرڅوک وي او په هره اندازه چې وي.
زمونږ هغو پوځيانو ته دی مبارکي وي او قهرمانانو ته چې د الله لاره يي نيولي ده او په هغه څه باندي يی وفا وکړه چې الله د هغوي سره وعده کړی وه او پخپل پياوړی ارادی سره دوي پدي وتوانيدل چې زمونږ ګران هيواد مصر د آبادي او د جوړوني په لوري بوځي او د وسله وال ټول منسوبينو ته دی مبارک وي چې دوي يو لوي بری ترلاسه کړ او دغه ورځ دي ټولو ته مبارک وي.
مونږ هم دا رول لرو چې بايد هڅه وکړو ترڅو د ودي هوسايني کار توليداتو او د پرمختګ لپآره کار وکړو ترڅو ټوله دنيا ته اد ثابته کړو هر هغه څوک چې د برليف ديوان لين اړولی وو او پدغه ورځ باندي يي هغه مضبوط سنګرونه لمنځه وړي وو د هغوي اولاده او لمسيان هم ددی توان لري چې ټولي سختي وګالي ترڅو پدی لاری کې امنيت برقراري وده هوساينه او پرمختګ رامنځته کړي او ټول په يو صف باندي د خپل سياسي مشرانو او همدارنګه د وسلوال پوځ ترشا او د ملي پوليسو ترشا ودريږي او همدارنګه د ټول دولت ملي ادارو او موسسو ساتنه وکړي.
**ای الله د مصر او د هغه د خلکو ساتنه وکړي او په هغوي باندي د امنيت او نعمت هميشه همداسی پاتی کړي او هغوي ته هوساينه او په رزق کې پراختيا ورپه برخه کړي.**